| | |
|---|---|
| درجه | دریمه درجه (عمر: له ۱۱ څخه تر ۱۴ کلونو پورې) |
| د ارتیا وړ سرچینې | د لسزریزو، زریزو، سلیزو، لیسیزو او یویزو د مکاني ارزښت جوړښت<br>د قطو یو ډیک<br>ورقه<br>پنسل |
| د سرچینو لپاره بدیلې لارې | لاندې لارښوونو ته په پاملرنې سره تاسو کولی شی د مکاني ارزښت یو جوړښت جوړ کړی:<br>1. په یوه ورقه باندې ۵ پراخه ساحه لرونکې کالمونه جوړ کړئ.<br>2. له کیڼ لورې څخه کالمونو ته په ترتیب سره نومونه ورکړئ: اول لسزریزه، بیا زریزه، سلیزه، لسیزه، او په پای کې چې د ښي لورې پای دی، د یویزې خانه ولیکئ.<br>لوبغاړي کولی شي د تیارو هغو قطو څخه کار واخلي چې ددوی په کور کې شتون لري او یا کولی شي د لاندې لارښوونو په عملي کولو سره خپلې قطې/کارتونه جوړ کړي:<br>1. د خپل ورغوي په اندازه یو مستطیل شکل په یوې ورقې یا کاغذ باندې لومړی رسم کړئ او بیا یې پرې کړئ.<br>2. د کارټ په یوه طرف باندې د ۲ شمیره ولیکئ او بیا دوه زړونه پرې رسم کړئ.<br>3. همدا عملیه د ۲ د شمیرې څخه تر ۱۰ شمیرې پورې تکرار کړئ او په هرځل کې باید د شمیرې په مطابقت په کارټ باندې زړونه هم رسم کړئ. (د بیلګې په توګه، هغه کارټ چې د ۳ شمیره لري باید ۳ زړونه هم پرې رسم کړی شي او همداسې نور.)<br>4. کله چې یوه ټولګه د کارټونو د ۲ څخه تر لسو پورې بشپړه شوه، له هغې وروسته همدا عملیه د الماسو، پشي او قرې لپاره هم تکرار کړئ.<br>5. بیا د (الف، ک، ق، او ج) څلور ټولګې (سیټونه) رسم کړئ.<br>کله چې تاسو دا عملیه بشپړه کړه، تاسو باید له ۲ څخه تر ۱۰ څلور ټولګې (سیټونه) ولرئ او همدا راز له الف څخه تر ج پورې به هم ټولګې ولرئ (ټولټال به تاسو ۵۲ کارتونه ولرئ). هر سیټ (ټولګه) باید بیلابیل سمبولونه ولري. |
| د پوښښ موضوع | عددونه او عملیې |
| په نخښه شوی مهارت | مکاني ارزښت |
| الهام اخیستنه | Third Space Learning |
| ټولټال اړین وخت | ۱۰ دقیقې، کچیرته سرچینې شتون ولري<br>۱۲ دقیقې، که چیرته یواځې د مکاني ارزښت جوړښت جوړوی<br>۳۰ دقیقې، که چیرته د کارټونو او مکاني ارزښتونو دواړو جوړولو ته ارتیا وي. |
| مخکینیو زده کړو ته ارتیا | له ۱ څخه تر ۹۹ ۹۹۹ پورې شمیرې |
| ملاتړ ته ارتیا | په ټیټه کچه ملاتړ |

<u>د لوبې قوانین:</u>

| | |
|---|---|
| موخه | هغه لوبغاړی چې د لوبې په پای کې تر ټولو ډیرې نمرې ترلاسه کړي، د لوبې ګټونکی شمیرل کیږي. د نمرو اخیستلو لپاره باید لوبغاړی د هر سیټ (ټولګې) په پای کې ترټولو لوړه شمیره له خانه سره ولري. |
| قوانین | کله چې یو کارټ په یوه کالم کې کیښودل شو، لوبغاړی ددې حق نه لري چې هغه وروسته کوم بل کالم ته انتقال کړي. همدا راز، لوبغاړي نشي کولی د ایکو، عکس لرونکو قطو او جوکرانو څخه کار واخلي. هر لوبغاړی باید د کارټ د ډیک څخه چې په منځ کې ایښودل شوی دی، یو کارټ را پورته کړي. |

| | |
|---|---|
| مرحلې | لومړۍ مرحله: باید ډېر ترلاسه کړی چې هر لوبغاړی (۲ څخه تر ۴ لوبغاړي) یو د مکاني ارزښت جوړښت له ځانه سره لري. |

| | |
|---|---|
| | دوهمه مرحله: د کارټونو ټول ډیک له یو بل سره ګډوډ کړئ او د زده کوونکو د ګروپ په منځ کې یې په سرچپه شکل سره کېږدئ.<br><br>دریمه مرحله: د کارټونو له بنډل څخه لومړی لوبغاړی یو کارټ راپورته کوي او د خپل مکاني ارزښت په جوړښت باندې یې ځای پرځای کوي (په هر کالم کې چې د لوبغاړي خوښه وي). کچیرته را پورته شوی کارټ ایکه، جوکر او یا کوم بل عکس لرونکی کارټ واوسي، لوبغاړی نشي کولی هغه وکاروي او باید د خپل دوهم نوبت لپاره منتظر پاتې شي.<br><br>څلورمه مرحله: هغه لوبغاړی چې د لومړي لوبغاړي کیڼ لوري ته ناست دی، یو بل کارټ را پورته کوي او په خپل مکاني ارزښت په یوه کالم باندې یې ځای پرځای کوي.<br><br>پینځمه مرحله: اول سیټ د ۳ پړاونو په ترسره کولو سره (ترڅو ټول لوبغاړي خپل د مکاني ارزښت کالم بشپړ کړي) پای ته رسیږي.<br><br>شپږمه مرحله: د کارټونو د کارولو په واسطه چې لوبغاړو کومې شمیرې ترلاسه کړي، هغه لیکي. هر هغه لوبغاړی چې د هر پړاو په پای کې تر ټولو لوړ نمبر ولري، یوه نمره/امتیاز ترلاسه کوي. د هغو سیټونو شمیر چې لوبول کیږي باید د لوبغاړو د شمیر څخه یو اضافه سیټ ولري. د بیلګې په توګه، که چیرته ۳ لوبغاړي وي، د هغو سیټونو شمیر چې لوبول کیږي باید ۴ واوسي.<br><br>اوومه مرحله: کله چې ټول سیټونه بشپړ شول، لوبه پای ته رسیږي.<br><br>د دریمې درجې لپاره یو وړاندیز (پیشنهاد): اتمه مرحله: لوبغاړي به خپلې شمیرې/عددونه د اعشاري عدد په حیث وړاندې کوي. مخرج باید د عدد په اندازه صفرونه ولري. د بیلګې په توګه: که چیرته یو لوبغاړی د ۴۳۲۲۹ کارټ ترلاسه کړي، هغه باید دا شمیره په لاندې ډول سره ووایي:<br><br>۴۳۲۲۹/۱۰۰۰۰<br><br>نهمه مرحله: لوبغاړي دوه نفري ګروپونه جوړوي او د اعشاري کسرونه پر یو بل باندې تقسیموي<br>لسمه مرحله: هر هغه ګروپ چې په پای کې ترټولو لوړه شمیره لاس ته راوړي، د لوبې ګټونکی شمیرل کیږي. |

| | |
|---|---|
| انځورونه | د مکاني ارزښت جوړښت  <br>د قطو یو ډیک (ټولګه): |
| |  |
| په لوبه کې بدلونونه | 1. تاسو کولی شی دا لوبه د ترټولو کوچني شمیر لرونکي عدد لپاره هم وکاروی. نو له همدې کبله، هغه لوبغاړی چې د لوبې په پای کې تر ټولو کوچنی شمیره ولري، یوه نمره/امتیاز ترلاسه کوي.<br>2. تاسو کولی شی دا لوبه د عددونو د مکاني ارزښت د په لا زیاتوالي سره ترسره کړی، لکه سلوزرو د خانې په اضافه کولو سره. |
| ساده کوونه | 1. د ۳ کالمونو پر ځای تاسو کولی شی د لوبه د لږو مکاني ارزښتونو لکه سلیزه او یا هم لسیزه او یا هم یویزه په واسطه ترسره کړی.<br>2. کله چې یوه زده کوونکي یو کارټ په یوه کالم کې واچوه، د هغوی د بل نوبت لپاره، هغوی د دې اجازه نلري چې خپل کارتونه بدل کړي. |